# ته به د اهل کتابو يو قوم ته ورشې، نو کله چې ورغلې دې ته يې راوبله چې شاهدي ورکړي پر دې چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن ته لېږه نو ورته يې وويل: « ته به د اهل کتابو يو قوم ته ورشې، نو کله چې ورغلې دې ته يې راوبله چې شاهدي ورکړي پر دې چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، نو که دوی په دې کې ستا پيروي وکړه، نو پوه يې کړه چې الله تعالی پرې په هره ورځ او شپه کې پنځه لمونځونه فرض کړي دي، نو که چېرته يې پدې کې ستا پيروي وکړه، نو پدې يې پوه کړه چې الله تعالی پرې د دوی په مالونو کې زکات فرض کړی دی چې له مالدارانو څخه يې اخيستل کيږي او غريبانو ته يې بېرته ورکول کيږي، نو که چېرته يې پدې کې ستا پيروي وکړه، نو د دوی له غوره مالونو - اخيستلو - څخه ځان وساته، او د مظلوم له ښېراوو څخه ووېرېږه، ځکه چې د هغه د ښيراوو او الله تعالی تر منځه هيڅ پرده نشته«.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه د يمن هېواد ته د الله لورې ته د بلونکي او ښوونکي په حيث ولېږه، نو ورته يې واضحه کړه چې هغه به د نصاراوو له يو قوم سره مخ کيږي؛ تر څو ورته چمتووالی ولري، نو بيا دې ورته تر ټولو د مهمو مسايلو په بيانولو پيل وکړي. نو لومړی دې هغوی د عقېدې سمون ته راوبولي؛ تر څو پدې ګواهي ورکړي چې له الله -تعالی- پرته بل معبود نشته او دا چې محمد -صلی الله عليه وسلم- د الله -تعالی- رسول دی؛ ځکه چې پدې سره په اسلام کې داخليږي، نو کله چې دې ته غاړه کيږدي په لمانځه ورته امر کوي؛ ځکه چې لمونځ له توحيد څخه وروسته تر ټولو لوی واجب دی، نو کله يې چې لمونځ قائم کړ، مالدارو ته يې امر کوي تر څو د خپلو مالونو زکات غريبانو ته ورکړي ، او بيا يې هغه ته خبرداری ورکړ چې غوره مال يې وانخلي، ځکه چې واجب منځمهالی دی، بيا يې ورته له ظلم څخه په ځان ساتلو وصيت وکړ، تر څو ورته مظلوم ښيرا ونه کړي، ځکه چې د هغه ښېراوې قبليږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3390